# د حمید بابا په شاعرۍ کښې ترکیبونه

(Compounds in the poetry of Hameed Baba)

فقیر محمد *


## Abstract:

Abdul Hameed Mohmand is one of the famous and remarkable poet of the poets triangle i.e. Khushal khan Khattack, Abdurahman Baba and Hameed Baba are the trend setter of Hindi Subak and Pashto romantic poetry. Hameed Baba gave new style and new dimension to the poetry. It is just a miracle that a man born in the desert of Pashtunkhwa became the founder of Pashto romantic poetry hundreds years ago he gave new ideas and new touch to the Pashto ghazal. He also contributed to the structure of the Pashto language. We can find a large number of new words especially in compounds. New words make language reach and powerful and Abdul Hameed Mohmand gave such kind of compounds to the language. In this article I have discussed the remarkable part of our grate classic poet and also discussed the types of compounds.


د درې پښتنو کلاسیکي باباګانو شاعرانو درې ګوټیز د شعري ادب نه داسې چاپېره شوی دی چې تر ابده به دغه فصیل قائم او دائم وي. شعري ادب به د ارتقاء پړاوونه سر کوي، پرمختګ به جاري ساتي خو د خوشحال، رحمان او حمید مقام به تل ځلانه، تابانه او روښانه وي. د حمید بابا د شاعرۍ هر اړخیزه ښکلا او ځلا د خپلو کلهمو رنګونو سره ځان ښکاره کوي. د هغۀ هنر ته هنر ور لاس تر زنې اریان دریان ناست دي. چې داسې سخن سازي د کومې. د هغۀ تخیل، فکر او نازک خیالي هغه دُر او مرجان دي چې هغۀ ته ئې د ادب په تاریخ کښې تل عمري ژوند بخښلی دی. د هغۀ شاعري د اعلی فن مظهر او نمونه ده. خو د دې هر څۀ سربېره د هغۀ د شاعرۍ لساني اړخ هم د کتو دی. د حمید بابا د شاعرۍ په مختلفو لساني اړخونو که غور وکړې شي نو په هر اړخ به ئې ګڼ شمېر نمونې مخې ته راشي خو دلته صرف د هغۀ د ترکیبونو د

---

* Lecture, Pashtoon Khwa Mutaleati Markaz Bacha Khan University of Charsada.

فني استعمال په اړه خبره کېږي کوم چې ژبه کښې د نوي لغتونو او اصطلاحاتو جوړولو او د ژبې په وسعت کښې اهم کردار لوبوي .

مرکب (compound): په هند اريائي ژبو کښې نوي لغتونه د نورو مختلفو لارو نه علاوه د مرکب په ذريعه هم جوړېږي او په دغه سلسله کښې بنيادي حېثيت لري، د مرکب ډېر قسمونه دي چې د هغې په ذريعه د ټکو نه ټکي جوړېږي او د ژبې په فراختيا کښې اهم کردار ادا کوي.

مرکب عموماً د دوو ازادو يا خپلواکو تورو د ګډون په شکل کښې مخې ته راځي دغه توري چې مرکب ترې جوړېږي ځان ځان له پوره معنىٰ لري خو چې کله د يو ځاى کېدلو په ترکيب بل تورې جوړ شي نو هغه بله معنىٰ جوړوي.

نادر دراني ليکي:

> Compound is one of morphological process of word formation, when define plainly a compound is combination of two already existing words. (۱)

ترجمه: ترکيب د نوو لغتونو يو نحوي عمل دى چې د وړاندې نه د موجودو دوه تورو د تړون په وجه وجود مومي .د دغه دوه جدا جدا تورو نمائنده ترکيب د بېل بېل توري نمائندګي نۀ کوي بلکې يو تورى جوړوي او مختلف او نوي ټکي جوړوي.

کرستېينا کوبوا ليکي:

> It is joining of two separate words to produce a single form. In other word, it is combination independent existence. (۲)

ترجمه: د دوو جدا تورو د يو ځاى کېدو په سبب د يو ځانګړي توري جوړښت کېږي يا په نورو لفظونو کښې دوه ځانله توري چې ازاد حېثيت او معنىٰ لري نوي وجود بيا مومي.

مرکبات د سابقو لاحقو يعنې د اشتقاق په شکل کښې هم جوړېږي او کله کله داسې هم وي چې يو تورې معنې دار او بل مهمل يعنې بې معنې هم وي دغه تړون او سمون د نوې مطلب د ادا کولو پوهېدلو او پوهولو کښې خپل ځان ښکاره کوي او د ژبې لمن کښې د اضافي سبب ګرځي.

ډاکټر سهيل بخاري د مرکب تعريف کښې ليکي :

”دو مختلف الفاظ کے مجموعے کو مرکب کہتے ہیں لیکن کبھی مرکب کے دونوں الفاظ معنٰی دار ہوتے ہیں اور کبھی ایک معنٰی دار اور دوسرا بے معنی یا مہمل ہوتا ہے۔اس طرح معنی کے لحاظ سے مرکب کی دو قسمیں ہو جاتی ہیں۔ (۱) مکمل معنی دار وہ مرکب ہے جس کے دونوں لفظ معنی دار ہوں (۲) جزوی معنی دار وہ مرکب ہے جس کا ایک لفظ معنی دار اور دوسرا مہمل ہوتا ہے۔“ (۳)

دلته به هغه ترکیبونه څېړلې شي چې د اشتقاق نه علاوه دي یعنې هغه مرکبات چې د دوه خپلواکه کلمو نه جوړ وي او نوې خپلواکه کلمه زېږوي. د مرکب ګڼ شمېر قسمونه دي چې مختصر ذکر ئې ضروري دی.

۱: اسم او اسم (Noun + Noun): د مرکب په دې قسم کښې هغه دواړه ټکي چې مرکب ئې جوړ کړي وي نومونه وي لکه د بوډۍ ټال، در ملتون، پښتون کوټ، رحمان مېنه، زرلښته او انځر ګل او نور.

۲: اسم او فعل (Noun + Verb): دا مرکب د اسم او فعل په ذریعه جوړېږي لکه سرکش، مچ شړونې، شاتېنګه او اور لړونې وغېره.

۳: اسم او صفت: (Noun and adjective): په دې قسم مرکب کښې یو اسم او بل صفت وي لکه کلک سترګې، سر کوزی، تور سرې او پاک زړې وغېره.

۴: اسم صفت او اسم صفت (Adjective + Adjective): د مرکب په دې قسم کښې دواړه توري د فعلونو نه جوړ وي. لکه سپین سپېڅلې، حسن و جمال، تور سپین، کوز پاس، لاندې باندې او پاک پاکیزه وغېره.

۵: تړښتي مرکب (co-ordinating compound) (x-o-y, x-e-y): دا هغه مرکبات دي چې د حروف عطف په ذریعه یو بل سره تړلې شي. په دې کښې څۀ د (واو) په ذریعه لکه خط و حال، زېر و زبر، عدل و انصاف، زیات و کم او شان و شوکت وغېره. څۀ د (زېر) په ذریعه جوړېږي لکه چاهِ زنخ، اهلِ دول، زهرِ قاتل وغېره.

۶: مترادف مرکب: په دې قسم کښې د مرکب جوړلو والا دواړه توري یو شان معنې لري دغه دواړه یو معنا لرونکي توري بل مرکب تورې رغوي.

صدیق الله رښتین لیکي:

”هغه چې د دوو هم معنا کلمو له ترکیبه څخه په لږ بدلون سره جوړشوې وي لکه شوده پی (یو بوټې دی) پټ پټانې، ډول ډال، ټېل ټال،“ (۴)

۷: عطفي مرکب: د مرکب په دې قسم کښې د مرکب دواړه بنیادي تورو تر مینځه د عطف تورې ختمولې شي دغسې یو ترکیب مخې ته راځي. د دغه خذف په ذریعه چې کوم ترکیب جوړ شي عطفي بللی شي. د دې مختلف صورتونه کېدلی شي. دواړه کلمې جدا جدا معنې لري خو یو بل سره ئې تعلق وي (۵). لکه مور پلار، تور

سپين او شپه او ورځ وغېره ۔ څۀ داسې وي چې هم معنې وي لکه صفا ستره، پاک پاکيزه، سپين سپېڅلې وغېره۔

۸: تکراري مرکب (Reduplication): دا هغه مرکب دی چې په دې کښې يو توری بيا بيا ذکر کېږي ۔ مقصد ئې مبالغه پېدا کول، زور، تاکيد يا دوام وي ۔ يعني يو ټکې په اصل حالت کښې بيا بيا راوړل تکرار دی۔

په دې اړه ډاکټر سهيل بخاري ليکي:

*"ہمارے یھاں جس طرح ایک اواز کو دو دو بار بولنے کا چلن ملتا ھے (جسے تشدید کھتے ہیں) اس طرح ایک لفظ کو بھی دو دو بار بولتے ہیں جیسا کہ پہلے بھی کھا جا سکتا ہے تشدید اریائی زبانوں میں نھیں ملتی۔ صرف عربی (سامی) اور هندوستانی زبانوں میں سنائی دیتی ہے۔ لیکن ایک دو بار بولنے کی ریت تو عربی میں بھی نہیں پائی جاتی۔ یہ صرف هندوستانی زبانوں کا ھی خاصہ ھے۔ اور بھت عام ھے ۔ ھماری زبانوں میں لفظ کو دھرانے کے کئی مقاصد ھوتے ھیں"* (٦)

د تکرار په کلام کښې خپل مقصد، اهميت او ضرورت وي ۔ د دې په وجه کلام کښې جامعيت پېدا کېږي ۔ د يو خاص حکم، تاکيد او مخصوص کار مطلب ترې هم اخستی شي ۔ په يو څيز د زور راوړولو او د خبرې د پخلي د پاره او مبالغه هم پېدا کوي ۔ د غور، توجه، کثرت او زيات معنې هم ورکوي ۔ لکه خپل خپل، زر زر، لرې لرې، خوارۀ خوارۀ او لمبه لمبه وغېره۔

۹: مخلوط توري (hybridization): دا د مرکب داسې قسم دی چې په دې کښې د مختلفو ژبو توري په کاروليې شي ۔ دا د پښتو فارسي يا پښتو عربي او پښتو انګرېزي دغسې د نورو ژبو د تورو په ګډون جوړېږي۔

"دا هم دا مرکب يو قسم دی خو په دې کښې يو لغت د يوې ژبې او بل لغت د بلې ژبې وي ۔ او دغسې نوې مرکب ترې سازېږي ۔ دا په پښتو کښې د نوي لغتونو جوړولو يوه ذريعه ده او خصوصاً چې کله چاپېريال کښې دوه يا ګڼې ژبې وئيلې شي"(۷)

دا دوه ژبيز توري د هرې ژبې کېدی شي. پښتو کښې د پښتو انګرېزي مثالونه دا دي. خيبر بازار، پښور يونيورسټي، باچا خان يونيورسټي، پښتو ډيپارټمنټ وغېره.

فارسي پښتو مثالونه : لکه سر تېر، پاک زړې، سرې خور وغېره. او د پښتو عربي مخلوط توري لکه کتابتون، صبرناک، قام خوښي او کتاب پوهنه وغېره.

۱۰: د مستعارو ترجمو ترکيبونه (loan translation): ځنې مرکبات د مستعارې ترجمې په شکل کښې مخې ته راځي ۔ دا هغه وخت کېږي چې کله مونږ د بلې

ژبې اصطلاح خپلې ژبې ته ژباړو ـ لکه تور لاس (black hand)، سپینه ماڼۍ ( white house)، تت و تېز (Dim Pul) ـ

فارسۍ نه مستعار صورت کښې لکه باز سازي (بیا رغاونه)، خود کش (ځان وژنه)، بېګانه پرور (پردي پال) وغېره ـ دغسې د عربۍ نه لکه علم الادویه (درمل پوهنه)، ذو معني (دوه معنيز)، تحریک (خوځون) وغېره ـ

۱۱: منځتاړې ترکیب (infix): په دې مرکب کښې د دوو یا د یو شان تورو ترمېنځه یو حرف راځي او نوې ترکیب جوړوي ـ انګرېزۍ کښې ورته (infix) وئیلې شي خو په دغه ژبه کښې وجود نۀ لري ـ پښتو کښې ئې مثالونه دا دي ـ برابر، مخامخ، کشمکش، سراسر وغېره ـ

صوتي مرکبات: چنچڼ، شړشړ، ټک ټک، شغ شغ، درز درز، ډز ډز ـ

**د حمید بابا په شاعرۍ کښې ترکیبونه:**

د حمید بابا په شاعرۍ کښې استعمال ډېر په خوندور، زړۀ راښکونکي او فني انداز کښې شوی دی ـ د هغۀ دا فن په لساني اړخ د ګرفت هنداره ځلوي ـ هغۀ چې د ترکیبونو کوم قسمونه په خپل کلام کښې ځای کړي دي د هغې مثالونه دا دي ـ

د اسم او اسم ترکیب:

**مېړتون:**

د صحرا هوسۍ ارام په مېړتون کا
ورکوي شوریده دل لره ارام خط"(۸)

**ګل اندام:**

چې مې ولیدۀ په مخ د ګل اندام خط
بیا موند نور د ازادئ ما غلام خط"(۹)

**نمر مخې:**

دا مې پرېوته پېښه د زړۀ له داغه
که د لاس نه د نمرمخي مشال پرېوت"(۱۰)

**نسکور:**

هغه سروې چې سر پورته کا اسمان ته
د خپل ځان په دود ئې زمکې ته نسکور کا"(۱۱)

**غوبمنډ:**

په راتلهٔ د خط پائمال شي هسې حسن
لکه وتړي په ګلو څوک غوبمنډ(۱۲)

**د اسم او فعل ترکیب:**

**سرکوزی:**

سر زما سرکوزی نهٔ مني د تاج
ګڼه تاج دی زما سر وته محتاج(۱۳)

**اور لړونی:**

هسې یم د یار له غمه په ضرور
لکه سوې اور لړونی د تنور(۱۴)

**سربازي:**

پروانه یو ځله سربازي په عمر
کړي دا کار په یوه شپه څو ځله شمه(۱۵)

**خونخوار:**

له خونخوارو سترګو څهٔ شفقت غواړې
مکرر چې وي په زړهٔ اهل قصاب سخت(۱۶)

**د اسم او صفت مرکب:**

**ساده دل:**

چې په داد د بوالهوس فلک هوس کا
ساده دل کا د دې خوب دغه تعبیر کج (۱۷)

**شوخ چشم:**

چې ئې مخ ته له ادبه کتې نهٔ شم
د شوخ چشمو له ادبه الغیاث(۱۸)

**وړ سترګې:**

که مې نهٔ زموئې په ویاړ د وړو سترګو
مې د عشق په پیمانه کښې د مجاز را(۱۹)

**مخ روڼي**:

که د ښکلو په دربار مخ روڼي غواړې
ائينې غوندې تور کا په خاکستر مخ(۲۰)

عطفي مرکب: هغه چې د عطف توري له میانه لرې کولو په واسطه جوړېږي.
آه فریاد "آه و فریاد"

خوښ د عشق په آه فریاد وسه حمیده
په سحر سحر غرېږي ډول د چا(۲۱)

**لري بري**: (**لري او بري**)

چې در پېښ لري بري شي
واقعي مزري ګیدړ ګیدړ مزري شي(۲۲)

**کاڼي بوټي (کاڼي او بوټي)**

نۀ دي ګرم د عشق په دم شېخ و ملک ته
کاڼي بوټي د صحرا شي ورته بو(۲۳)

**تکراري مرکب**:

**زر زر**:

د هجران په دا دراز عمر خوښ نۀ یم
که ئې خدای کاندي زر زر راباندې لنډ(۲۴)

**سوری سوری**:

چې ئې زړۀ د عشق په تېغ سوری سوری شي
لا علاج کاندي فریاد لکه سرنا(۲۵)

که مې زړۀ د عشق په تېغ سورې سورې شو
له یو نه دی هم نۀ کړه راته تا(۲۶)

**ونډ ونډ**:

لکه ښکار د ډېرو سپو په خولۀ کښې کښېوځي
فرقتونو مې زړۀ هسې کړو ونډ ونډ(۲۷)

ترښتي مرکب: چې د عطف د توري په تړون جوړېږي ـ کوم چې د "واو" یا "او" په اضافه جوړېږي.

**کاروبار**:

لېوني غوندې د عشق په کاروبار کښې
د خپل ځان په سود و زیان نۀ یم هر ګز(۲۸)

په دې شعر کښې سود و زیان هم د دې مرکب قسم دی۔

**زېر و زبر**:

سروقد چې په قدم به زمکه بر کړو
هر قدم به ئې عالم زېر و زبر کړو(۲۹)

په دې شعر کښې سروقد هم دا قسم مرکب دی۔

**خط و خال**:

د ښۀ مخ همای هاله کا په چا سوري
چې شهپر د خط و حال راوړي پرواز کا(۳۰)

**خوار او ابتر**:

د دنیا اهلِ دول د زړۀ په سترګو
واړه ولیدۀ ترځان خوار او ابتر ما(۳۱)

**ښۀ او بد**:

ښۀ او بد د یار په بله دي لذیذ
ګوښې ګوښې یو تر بله دي لذیذ(۳۲)

چې د زېر په ذریعه کوم ترکیبونه جوړېږي۔

**اهلِ دول**:

د دنیا اهلِ دول د زړۀ په سترګو
واړه ولیدۀ ترځان خوار او ابتر ما(۳۳)

**زهرِ قاتل**:

نۀ به تۀ سرکشه نفس په بدو موړ کړې
نۀ به شي زهرِ قاتل د چا دعا(۳۴)

**بادِ سبا:**

چې پرې زېرې د ګل روح باد سبا کا
له هوسه ئې غنچه قميص قبا کا(۳۵)

منځتاړې ترکيب:

**برابر:**

صابران د اختياج له ډېره شرمه
ائينې ته نيوې نۀ شي برابر مخ (۳۶)

**سراسر:**

سراسر د روه نفاق دی
چې ليدې شي بېن الناس(۳۷)

**مخامخ:**

له مېوې د سوري ونه شا په شا شي
څو ئې نۀ کړې مخامخ وته د نمر مخ (۳۸)

**رېز مرېز:**

که د غم په ډبلو شم رېز مرېز
نۀ مې صبر شي له ښکلو نۀ پرهېز(۳۹)

نوي لغتونه (neologism) د وخت د ارتقاء سره سم په ژبه کښې نوې معنې او مفهوم ادا کولو د پاره اهمه او ضروري وسيله ده . په دې سائنسي او ترقي يافته دور کښې د ژوند په هر مېدان کښې نوښت پېدا کېږي . نوي څيزونه، نظريات او خيالات زېږي چې د اظهار د پاره ئې په ژبه کښې مناسب او ضروري نوې نومونه او اصطلاحات بنيادي ضرورت او مجبوري ده . نوې لغتونو ته په هر دور کښې ضرورت پېښېږي چې په مختلفو طريقو جوړېږي په هغې کښې مرکب ډېر اهم مقام لري . په دې ليک کښې د مرکب مختلف قسمونه بيان شوي دي او د هغې مثالونه د حميد بابا د شاعرۍ په رڼا کښې وړاندې شوي دي . د شاعرۍ د نوې لغتونو په اړه د مرکباتو او نورو طريقو لکه اشتقاق، اختصار او نيوليوجزم لاړې لري خو په دې مقاله کښې د ترکيب تر حده بحث شوی دی.

❀❀❀

## حوالې

1. Nadir durani, typhlogy of word and Automaticaly word segmentation in urdu text corpus, ms thesis, department of computer Science, national university of computer and emrging science, Lahore, 2007, p 11.
2. Kristyna, kubova, neologism in English, thesis, department of English and amrican studies, Masaryk university, 2009, p 11.

۳. سہیل بخاری، ڈاکٹر، تشریحی لسانیات، جعفر رضا، ای ۱۰۳، سکٹر ۱۱ بی، نارتھ کراچی، ۱۹۹۸ء، ص ۱۴۷۔

۴. ریښتین، صدیق الله، پښتو ګرائمر، یونیورستي بک اېجنسي پېښور، جون ۲۰۱۴ء، مخ ۷۷۔

۵. خلیل صدیقی، زبان کیا ہے، لاہور، بیکن بکس، ۲۰۰۹ء، ص ۶۹۔

۶. سہیل بخاری، ڈاکٹر، تشریحی لسانیات، ص ۱۴۵ــ ۱۴۶۔

۷. فقیر، فقیر محمد، پښتو کښې نوي لغتونه، مشموله تکتو، کوټه، پښتو څانګه، بلوچستان یونیورستي، جولائي۔ دسمبر ۲۰۱۶ء، مخ ۸۳۔

۸. عبدالحمید مومند، دُر مرجان، پېښور، یونیورستي بک اېجنسي، س ن، مخ ۱۰۷۔

۹. ایضاً، مخ ۱۰۶

۱۰. ایضاً، مخ ۵۸

۱۱. مومند، عبدالحمید، د عبدالحمید مومند کلیات، دریم چاپ، سمؤنه او څېړنه، محمد اصف صمیم، پېښور، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۰۹ء، مخ ۲۰۔

۱۲. دُر مرجان، مخ ۷۵۔

۱۳. ایضاً، مخ ۱۳

۱۴. ایضاً، مخ ۷۹

۱۵. ایضاً، مخ ۱۰۸

۱۶. ایضاً، مخ ۶۱

۱۷. ایضاً، مخ ۶۴

۱۸. ایضاً، مخ ۶۲

۱۹. ایضاً، مخ ۲۷

۲۰. ایضاً، مخ ۷۰

۲۱. ایضاً، مخ ۴۳
۲۲. د عبدالحمید مومند کلیات، ۴۷۲
۲۳. ایضاً، مخ ۱۴۷
۲۴. ایضاً، مخ ۷۴
۲۵. ایضاً، مخ ۳۵
۲۶. ایضاً، مخ ۳۶
۲۷. ایضاً، مخ ۷۴۔
۲۸. ایضاً، مخ ۸۹
۲۹. د عبدالحمید مومند کلیات، مخ ۴۸۵۔
۳۰. ایضاً، مخ ۲۱۔
۳۱. در مرجان، مخ ۳۳
۳۲. ایضاً، مخ ۷۴
۳۳. ایضاً، مخ ۳۳
۳۴. د عبدالحمید مومند کلیات، مخ ۱۲۔
۳۵. ایضاً، مخ ۴۸۳۔
۳۶. در مرجان، مخ ۷۰۔
۳۷. ایضاً، مخ ۹۴
۳۸. ایضاً، مخ ۷۰
۳۹. ایضاً، مخ ۹۰